ISSUE 77 APRIL 2024

خانه نو نوی کور

# New Home

خانه نو، سرویس خبری برای اهل افغانستان در امریکا است

نوی کور، په امریکا که د افغانانو لپاره یو خبری خدمت دی

**A news service for Afghans in America**

NEW HOME is brought to you by Sahan Journal, Afghan Cultural Society,and Center for Victims of Torture.
It's reported and written by Hussain Ali Haidari.



Photo Credit: Haniya Tavasoli

# په مینه‌سوټا کې د سلګونو افغانانو په شتون کې د کوچني اختر لمانځنه

- د ۲۰۲۲ په فبروري کې، د نارینه او ښځینه تعلیمي ټولګي جلا شوي
- د ۲۰۲۲ په مارچ کې، نجونې ښوونځي ته له تلو منع شوې وې
- د سپټامبر په ۲۰۲۱ کې، ښځې د کار کولو څخه منع شوي

Illustrator Credit: CVT

## په مینه‌سوټا کې د سلګونو افغانانو په شتون کې د کوچني اختر لمانځنه

په مینه‌سوټا کې د افغان کلتوري مرکز د یکشنبې په ماښام د اپریل په ۱۴مه په دغه ایالت کې د څه باندې ۳۰۰ افغانانو په شتون کې د کوچني اختر لمانځنه وکړه. په دې پروګرام کې موسیقي، خواړه او تفریحي پروګرامونه شامل وو. د دې اداري مشرې نسرین سجادي نوي کور ته وویل، دوی هڅه کوي د پروګرامونو تر نامه لاندې په مینه‌سوټا کې د افغانانو لپاره یوه نوې ټولنه جوړه کړي. هغه زیاته کړه چې دلته لږ شمېر خلک له نورو افغانانو سره په تماس کې دي او هڅه کوي چې له دغو پروګرامونو څخه په استفادې سره یو له بل سره اشنا شي. د کوچني اختر په نمانځنه کې د ټولنې د بېلابېلو طبقو په ګډون نارینه، ښځو، ماشومانو، ځوانانو او لویانو برخه اخیستې وه. ۵۳ کلن وحید بېکزاد معمولاً په مینه‌سوټا کې په بېلابېلو کلتوري پروګرامونو کې برخه اخلي. بېکزاد وویل، ددې پروګرامونو په څېر نور پرګرامونه د هېوادوالو د پېژندلو، لیدلو او د یو بل سره د اړیکوښه زمینه برابروي. هغه زیاته کړه، چې د دغو پروګرامونو ترڅنګ به افغان کلتوري مرکز په مینه‌سوټا کې د افغان مهاجرینو د ظرفیتونو د لوړولو او ظرفیت ښه کولو په برخه کې هم کار وکړي. وحید بېکزاد ټینګار وکړي او زیاته یې کړل چې موږ باید ښه کار وکړو، وده وکړو، خپل کاروبار پیل کړو، افغاني کلتور او فرهنګ باید په خپلو ظرفیتونو او مهارتونو کار وکړو. په مینه‌سوټا کې د افغانستان دغه اوسیدونکي یادونه وکړه چې پروګرامونه زموږ له ماشومانو او تنکیو ځوانانو سره مرسته کوي چې له خپل هیواد څخه لرې خپل کلتور وپیژني

**ادامه ...**

د ماشومانو لپاره د کلتور او ژبې ښوونه یوه مهمه مسله ده چې ډیری کورنۍ ورته ډېر اهمیت ورکوي. په همدې حال کې د دغه پروګرام یو بل ګډونوال ۱۳ کلن محمدحسین وویل چې د خپل فرهنګ او هویت د ساتنې لپاره هڅې کول ډېر مهم دي. د هغه په وینا، د اختر او نورو مهمو مناسبو ورځو نمانځل به ځوانان او ماشومان د خپل وطن له فرهنګه زده کړي کولو ته وهڅوي. روح الله بېژن چې په دې جشن کې یې ګډون کړی و، وویل چې دا پروګرامونه د اندیښنو د کمولو او په ټولنه کې د خوښۍ د رامنځته کولو لپاره ډېر مهم دي. ښاغلي بیژن زیاته کړه چې د دې پروګرامونو ترڅنګ باید په مینه‌سوټا کې د افغانانو کاري او تعلیمي ظرفیت ته هم پاملرنه وشي. د هغه په وینا، اوسمهال ډېری خلک د ښه کار په لټه کې دي. اوس مهال افغان کلتوري مرکز په مینه‌سوټا کې د افغانانو اساسي اړتیاوو ته زیاته پاملرنه کوي. د موټر چلوونکي روزنې پروګرام، د دولتي خدماتو لپاره غوښتنلیک په شمول د خوړو پروګرام، روغتیا بیمه، نغدي او رواني روغتیا. په ۲۰۲۱ کال کې د طالبانو لاس ته د افغانستان تر لویدو وروسته تر ۱۰۰ زره ډېر کسان امریکا ته انتقال شوي. په امریکا کې د زرګونو افغان مهاجرینو شتون د دې لامل شوی چې په بیلابیلو مناسبو ورځو کې بیلابیل کلتوري پروګرامونه ترسره شي. د نوي کال لمانځل، د یلدا شپه، د لوی اختر او د کوچني اختر لمانځنه په مینه‌سوټا کې د افغان کلتوري مرکز د پروګرامونو برخه ده چې د افغان کلتور د ساتنې او درناوي په موخه ترسره کیږي. مینه‌سوټا په شمالي امریکا کې یو له هغو ایالتونو څخه دی چې په دغه ایالت کې لږ شمېر افغان کډوال ژوند کوي. د رسمي شمېرو له مخې په دغه ولایت کې تر ۱۵۰۰ ډېر افغانان ژوند کوي.

**خپل پوښتنې او نظر له موږ شریکې کړئ**

**651-504-8170**